**PRESS STATEMENT**

23 February 2026
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**د ملکي تلفاتو په اړه د یوناما اعلامیه**

**کابل -** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د پاکستان له خوا په افغانستان کې د شپې له خوا د هوايي بریدونو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې اړوند کره راپورونه ترلاسه کړي دي، کوم چې د فبروري ۲۱مې د شپې ناوخته څخه د فبروري ۲۲مې سهار وختي پورې ترسره شول.

د فبروري ۲۱مې د شپې ۱۱:۴۵ دقیقو څخه د فبروري ۲۲مې سهار ۱۲:۴۵ دقیقو پورې پاکستاني پوځي ځواکونو د ننګرهار ولایت په بهسود او خوګیانیو ولسوالیو کې هوايي بریدونه ترسره کړل. د ملکي تلفاتو لومړني ارقام ښیي چې د ښځو او ماشومانو په ګډون لږترلږه ۱۳ ملکي وګړي وژل شوي او ۷ تنه نور ټپیان دي.

پاکستاني پوځي ځواکونو د پکتیکا ولایت په برمل او اورګون ولسوالیو کې هم هوايي بریدونه ترسره کړل. د راپور له مخې په لومړي هوايي برید د فبروري په ۲۱مه، شاوخوا د شپې ۱۱:۱۵ دقیقې د برمل ولسوالۍ په مرغۍ سیمه کې پر یوه مدرسه ترسره شو چې یوه نږدې جومات ته په کې هم لږ زیان ورسیدو. دویم هوايي برید د اورګون ولسوالۍ په دهنه سیمه کې شاوخوا د شپې ۱۱:۳۰ دقیقې یو تش شخصي استوګنیز کور په نښه کړ او جزوي یې ویجاړ کړ. په دې بریدونو کې تر اوسه د ملکي تلفاتو راپور نه دی ورکړل شوی.

یوناما په ټولو اړخونو غږ کوي چې د ملکي وګړو د خوندیتوب او د لا زیاتي مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره [جګړې ته د تل لپاره د پای ټکی کیږدي]، او ټولو اړخونو ته د نړیوال قانون له مخې د دوی د مکلفیتونو یادونه کوي چې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره د توپیر، تناسب او احتیاط اړین اصول په پام کې ونیسي.

* * *

Website | Twitter | Facebook English | Facebook Pashto | Facebook Dari | Instagram | Flickr